آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۹/۰۹

# راکټونه، خیراتونه

ما خپل دا شعر یو کال مخکې خپور کړی و او د خپلو شعرونو په نا چاپ ټولګه کې مې ور سره لیکلي و چې نشر شوی دی. څو ورځې مخکې یو دوست د ټیلیفون پر کرښه راته وویل چې د «افغان جرمن انلاین» په ویبسایت کې مې ستا په ځانګړي ارشیف کې د « راکټونه، خیراتونه» تر سرلیک لاندې شعر باندې کلیک وکړ، خلاص نه شو؛ ما چې ولید، ریښتیا نه خلاصیده، زه یې هم په تخنیکي ستونزه باندې پوه نه شوم. د هغه دوست په غوښتنه یې بیا انلاین کوم:

# راکټونه، خیراتونه

**خیرات خواره یو**

**راکټو ته مو کچکول نیولی**

**د ژوندون خیر مو له راکټ نه غواړو**

**موږه یو وږي**

**سیلاوونو نه فصلونه غواړو**

**موږه لار ورکي یو**

**سر سام یو**

**توپانونو نه آرام غواړو**

**له خپل دښمن څینې د سرو ګلونو فصل غواړو**

**چې لږ مو پام شي نو بیا سره یو**

**او په وینو کې لیت پیت پراته یو**

۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هیدر سلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ